مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۰۳/۰۸

# غــزل

گرد یم د هوا په واک
چغه د چوپتیا په واک

تور شوم په تیارو کښې زه
نه لرم رڼا په واک

واوره ننی کیسه
حورې د ملا په واک

تښتم به له دې ځمکې
شوه چې د بلا په واک

ښکارې چې دا ټول ملت
نن دی د بل چا په واک

تاؤ دې کړې لمبې رانه
مرگ مې شو هم ستا په واک

خورمه د خپل ځان غوښې
نه مې شته رضا په واک

بڼ په پسرلي مړاوی
شولو د سزا په واک

مصطفی پسرلی
07/03/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ